# د علم برکتونه

پښتو




پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# پیش لفظ

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې د علمِ دين شوق پيدا کولو او د ديني کتابونو لوستلو وخت په وخت ترغيب ورکړے کيږي. د شيخِ طريقت،اميرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اسلامی حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ له طرفه تقريباً د تيرو 5 کالو راسې د هرې هفتې يوه رساله (ويکلي بُک لِټ) لوستلو يا د (آډيو بُک) په ذريعه د لوستلو اعلان کيږي، لوستونکي خوش قسمته اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې د دعائے عطار برکتونه هم حاصلوي. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د هفته وار مطالعه رساله مجلس له طرفه په مختلفو موضوعاتو رسالې تيارولے شي، په 13ربيعُ الاوّل 1443 ھ د هفته وارې رسالې مطالعه مجلس يو اسلامي ورور د اميرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ نه د نورو نوو موضوعاتو په باره کښې رهنمائي واخستله نو هغوئي څه مدني مشورې عنات اوفرمائيلې او اوئې وئيل: اِحياءُ العلوم مه هيروه (يعني دا کتاب هم په خپلو رسالو کښې شامل کرئ). ځکه چې هغوئي اِحياءُ العُلوم کتاب ډير خوښوي. يوه مدني مذاکره کښې اميرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ ارشاد اوفرمائيلو: بهارِ شريعت عالم جوړوونکے کتاب دے او فتاوىٰ رضويه مفتي جوړوونکے دے او اِحياءُ العلوم مومنِ کامل

جوړوونکے کتاب دے. هغوئي فرمائي د باطني معلوماتو په باره کښې د امامِ غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په ما ډير احسانونه دي. چا چې اِحياءُ العلوم اونه لوستلو هغه ما ته نيمګړے نيمګړے شان ښکاري. ځکه د اميرِ اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په فرمان د عمل کولو سره د **حُجَّةُ الۡاِسلام** امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مشهورِ زمانه، مقبولِ عام کتاب اِحياءُ العلوم کوم چې عربئ ژبه کښې په 5 جلدونو کښې دے او د دعوتِ اسلامي اهم ترينې شعبے اسلامي ريسرچ سينټر المَعروف "**المدينةُالعلميه**" د دې کتاب په اُردو ژبه کښې هم ترجمه کړې ده. دا کتابونه په ترتيب سره اولولئ. اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡکَرِيۡم! ستاسو معلومات به زيات شي او ډير فرض علوم به زده کړئ. د عامو خلقو د آسانئ او زده کړې د پاره د اِحياءُ العلوم نه ځينې موادو د نورو ترميمونو او زياتوالي سره دا رساله وړاندې کولے شي. (کومه چې به سلسله واره چليږي. اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم!) د الله پاک رضا حاصلولو او د علمِ دين حاصلولو د پاره د هفته وارو رسالو لوستلو سره معلومات زياتيږي او دې سره د ژوند اهمو مسئلو په باره کښې هم خبرتيا ميلاويږي. الله پاک! دې مونږ له د خپلو بزرګانِ دين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم د کتابونو نه د فائدو حاصلولو ( يعني فيض موندلو) توفيق راعطا کړي او په علم باندې دې د اخلاص سره د عمل کولو سعادت را نصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

وَالسّلام مَعَ الۡاِکۡرام

ابومحمد طاهر عطاري مدني عُفِيَ عنه

# د عِلم برکتونه

دعائے عطار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ”د علم برکتونه“ اولولي یا واوري، هغوئي ته د خپلې رضا د پاره د علم زده کولو او د دې د خوررولو توفيق ور عطا کړې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت شيخ ابو العباس تِيجاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو طالب علم ته خط اوليږلو او په هغې کښې ئې د بِسْمِ الله او صلوٰة وسلام نه پس اوليکل چې د الله پاک د ټولو نه زيات فائده مند ذکر په رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړه د حاضرولو سره دُرُود شريف ليږل دي. بيشکه دا د دُنيا او آخِرت ټولو مقصدونو حاصلولو ضامن او د ټولو مُشکلاتو حل دے او څوک چې په دې عمل کوي هغه به الله پاک ته د ټولو نه زيات ګران وي. (سعادة الدارين،ص109)

دَسْت بستہ سب فِرِشْتے پڑھتے ہیں اُن پر دُرود
کیوں نہ ہو پھر ورد اپنا اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَام
مومنو پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر دُرود
ہے فِرِشْتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پــوهــه مــور

د کروړونو مالکیانو امام، عاشقِ مدینه، امام مالک بن اَنس او د عظیم تابعي بزرګ حسنِ بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په شان د جلیلُ القَدر هستیانو اُستاذِ محترم حضرت رَبِیعه بن ابو عبدُالرحمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لا د خوربِ مور په خیټه وو چې د هغه والدِ محترم حضرت ابو عبدُ الرحمان فرُّوخ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د بنو اُمَیَّه په دور کښې د سرحدونو د حفاظت د پاره د جهاد په غرض خُرَاسَان ته لاړو. د تللو په وخت هغوئي خپلې بـي بـي ته 30 زره دیناره پریښوده. 27 کاله پس چې کله هغوئي بیرته مدینې منورې ته راغللو نو د هغوئي په لاس کښې نیزه وه او هغوئي په آس سور وو. کور ته چې اورسیدلو نو د آس نه کوز شو او په نیزه ئې دروازه دننه دیـکه کړه نو حضرت ربیعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سمدستي بهر اووتلو. خنګه چې ئې یو وسله وال کَس اولیدلو نو ډیر په غُصَّه کښې ئې اووئیل: "اے د اللّٰه بنده! ته زما په کور حمله کول غواړې؟" حضرتِ فَرُّوخ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: "نه! خو ته راته دا اووایه چې تا زما کور ته د ننوتلو هِمَّت خنګه اوکړو." بیا دواړو یو بل ته په غُصَّه خبرې شروع کړې. نزدې وه چې دواړو لاس اچولے وے خو ګاؤنډیان را مخکښې شو او جګړه اونشوه. کله چې امام مالک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه او نور بزرګان صاحبان خبر شو نو سمدستي راغلل. خلقو چې هغوئي اولیدل نو خاموشه

شو. حضرت ربيعه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هغه ګس ته اووئيل: " په الله مې دې قسم وي! زه به تا تر هغه وخته پورې نه پرېږدم تر څو چې دې سلطان (يعني بادشاهِ اسلام) له بو نه څم." حضرتِ فَرُّوخ رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه اووئيل: " په الله مې دې قسم وي! زه به تا هم سلطان له د بوتلو نه بغير نه پرېږدم، يو خو ته زما کور ته زما د اجازت نه بغير ننوتلې او بيا راسره جګړه هم کوې. "امام مالک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه حضرت ابو عبد الرحمان فَرُّوخ رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته ډيره په نرمۍ اووئيل چې که چرې ستاسو پاتې کيدل مقصد وي نو په بل يو کور کښې پاتې شئ. هغوئي اوفرمائيل: " زما نوم فَرُّوخ دے او دا هم زما کور دے" دې اوريدلو سره د هغوئي محترمه بـي بـي کومه چې د دروازې شاته ولاړه وه، اوئې فرمائيل: " دا زما خاوند دے او ربيعه د ده ځوئ دے." دا ئې چې واوريدل نو دواړه پلار او ځوئ يو بل ته ورغاړه وتل او د خوشحالۍ نه ئې د سترګو نه اوښکې رواني شوې. حضرت فَرُّوخ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خوشحالۍ خوشحالۍ کور ته ننوتلو. کله ئې چې ښه دمه اوکړه نو لږ ساعت پس ورته هغه 30 زره ديناره ورياد شو کوم چې هغه د روانيدو په وخت خپلې بـي بـي ته سپارلي وو. نو د بـي بـي نه ئې تپوس اوکړو چې زما امانت چرته دے؟ پوهه بـي بـي عرض اوکړو: " هغه ما سنبال کړے پرينښودے دے." حضرت ربيعه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هغه وخت مسجدِ نَبَوِي شريف

ته رسيدلے وو او درس کښې ناست وو او ګڼړ شمير شاګردانو کومو کښې چې د امام مالک او خواجه حسن بصري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِما په شان بزرګان شامل وو، د خپل شيخ نه راچاپيره شوي وو. حضرت فَرُّوخ رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې کله د لمُونځ ادا کولو د پاره مسجدِ نبوي شريف ته لاړلو نو دغه منظر د کتلو وو چې يوه حلقه جوړه ده او خلق ډير په ادب او تَوَجُّه سره علمِ دين زده کوي او يو ډير ښکلے ځلمے دوئي له درس ورکوي. دوئي چې کله نزدې ورغلل نو خلقو ورته ځائ پريښودو. حضرتِ ربيعه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سر ښکته کړے وو. ځکه د هغوئي والد محترم هغوئي اونه پيژندلو او د ناستو خلقو نه ئې تپوس اوکړو: " د علم لعلونه ورکوونکے دا "شيخُ الحديث" څوک دے؟" خلقو اووئيل: " دا ربيعه بن ابو عبد الرحمان دے." دې اوريدلو سره د ډيرې خوشحالئ په حالت کښې د هغوئي د ژبې نه دا جمله اووتله چې "لَقَدۡ رَفَعَ اللّٰهُ اِبۡنِیۡ يقيناً الله رَبُّ الۡعِزَّت زما ځوئ ته ډيره لويه مرتبه عطا کړې ده!" بيا هغوئي په خوشحالئ خوشحالئ د خپلې بـې بـې خوا ته لاړلو او اوئې فرمائيل: "ما نن د خپل زړه ټوټه [يعني خپل ځوئ] په داسې يوه عظيمه مرتبه اوليدلو چې د دې نه مخکښې مې بل يو عالم په داسې مرتبه نه دے ليدلے." بـې بـې محترمې پوښتنه اوکړه: " ستا خپل 30 زره ديناره پکار دي که د خپل ځوئ دا عظمت او رِفعت." هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ارشاد

اوفرمائیلو: ”په الله پاک مې دې قسم وي! زما د خپلو سترګو د نور [یعني د خپل ځوئ] شان د درهمو او دینارو نه ډېر خوښ دے.“ هغې اووئیل: ” ما هغه ټول مال ستاسو د ځوئ په تعلیم او تربیت لګولے دے.“ دې اوریدلو سره هغوئي اوفرمائیل: ” په الله مې دې قسم وي! تا هغه مال ضائع کړے نه دے.“ (تاريخ بغداد، 421/8) د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږ بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

میرے استاد ماں باپ بھائی بہن اَہلِ وُلد و عَشیرت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کاش! په هر یو کور کښې کم نه کم یو عالِمِ دین وے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! علمِ دین ډېر عظیم نعمت دے، د دې حاصلول هم د سعادت مندو حِصّه ده، د علمِ دین حاصلول د نَفلي عبادت نه افضل کار دے، د علمِ دین د فضیلت د پاره دومره کافي ده چې عالم یعني علم والا کیدل د الله پاک صفت دے. حدیثِ قُدسي دے: الله پاک حضرت ابراهیم خلیلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اوفرمائیله چې اے ابراهیمه! زه علیم یم او هر یو صاحبِ علم خوښووم. (جامع بيان العلم وفضله، ص70)

کاش! چې د دنیاوي تعلیم د لویو لویو ډګریانو حاصلولو، سحر او ماښام د

فکر کولو په ځائے د علمِ دین حاصلولو شوق پیدا شي. مال، مال او صرف د مال فکر کښې ورك کیدو په ځائے د علمِ دین په کثرت سره شوق پکار دے چې د مال حفاظت مونږ له کول وي خو علمِ دین زمونږه حفاظت کوي، د علمِ دین او علمائے کاملین بیشمیره فضائل په قرآن مجید او احادیثو کښې بیان شوي دي. زما شیخ طریقت، باني دعوتِ اسلامي امیرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ ارشاد فرمائي: زما خواهش دے چې په هر کور کښې کم نه کم یو عالِمِ دین پکار دے. خوش قسمتي به وي چې خپل اولاد حافظِ قرآن، عالِمِ دین بلکه مفتيِ اسلام جوړولو ښکلي او عظیمه جذبه نصیب شي چې داسې نیک اولاد په ژوند کښې د خپل مور پلار ښه ادب او تعظیم کوي، په بوډا والي کښې د دوئي ښه خدمت کوي او د ثوابِ عظیم حقدار جوړیږي او د مور پلار د دُنیا نه د رخصتیدو نه پس د هغوئي د پاره ایصالِ ثواب کوي او د صدقهٔ جاریه سبب هم جوړیږي.

## د مور پلار له طرفه اولاد ته غوره تُحفه

په حدیثِ پاک کښې مور پلار ته خپلو بچو ته د علمِ دین زده کولو حکم شوے دے ځنګه چې نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د انسان خپل بچي ته اَدب زده کول د یو صاع (یعني 160 ګرامه کم 4 کلو ګرامه) صدقه کولو نه بهتر دي. (ترمذی، 382/3،حدیث:1958) یو بل روایت کښې دي: یو

پلار خپل ځوئ ته د ښه ادب ښودلو نه بله غټه عطيه (ډالئ) نه ده ورکړې. (ترمذی،3/383، حدیث:1959) زړه کښې د علمِ دين شوق نور زياتولو د پاره د قرآنِ پاک يو څو آيتونه او احاديث وړاندې کولے شي. دا اولولئ او پخپله هم علمِ دين حاصل کړئ او خپل اولاد ته هم علمِ دين اوښائې.

## د ځان او فرښتو سره د علمائے کرامو ذِکرِ خير

الله پاک د عُلَمَائے کرامو په فضيلت کښې په دريمه سيپاره سورۀ آلِ عمران آيت نمبر 18 کښې ارشاد فرمائي:

﴿شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَ الْمَلٰٓىٕكَةُ وَ اُولُوا الْعِلْمِ قَآىٕمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ﴾

[مفهوم]ترجمۀ کنزالايمان: "الله پاک ګواهي ورکړه چې د هغه نه سوا بل يو معبود نشته او فرښتو او عالِمَانو په انصاف د قائم کيدو سره." [ګواهي ورکړه]

حُجَّةُ الْاِسلام امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت د ليکلو نه پس ارشاد فرمائي: اوګورئ! الله پاک څنګه د خپل پاک ذات نه شروع اوکړه، بيا ئې د فرښتو او بيا ئې د عالِمَانو صاحبانو ذِکر اوفرمائيلو. دا شرف او فضيلت د عظمت او کمال د پاره هم دا کافي دے. عظيم تابعي بزرګ حضرت سعيد بن جُبَير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کعبې نه ګير چاپيره 360 بُتان وو، کله چې دا آيت مبارکه نازل شو نو ټول بُتان په سجده پريوتل.

(تفسير قرطبی، جز:4، پ3، آل عمران، تحت الآية:18، 32/2)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په سيپاره 28 سورةُالمُجَادَله آيت نمبر 11 کښې ارشاد دے:

﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ﴾

[مفهوم]ترجمۂ کَنزالایمان: "الله به ستاسو د ايمان والؤ او د هغوئي چا ته چې علم ورکړے شوے دے درجے اوچتې کړي."

## د عُلمائے کرامو په عامو خلقو باندې فضيلت

حضرت عبد الله بِن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: " عُلمائے کرام به د عامو مومِنانو نه 700 درجے اوچت وي، د هرو دوؤ درجو ترمينځه 500 کاله مزل دے. (قوت القلوب، 241/1)

## علم د عبادت نه ولې غوره دے؟

اِمام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ په مِنهاجُ العابدين کښې ليکي: اے د اخلاص او عبادت غوښتونکيه! الله پاک دې تا ته توفيق درکړي، د ټولو نه مخکښې تا ته علم حاصلول ضروري دي ځکه چې ټول دار و مدار په دې دے. ځان خبر کړه چې علم او عبادت داسې دوه لعلونه دي چې د ليکونکو د کتابونو، د سبق ښودونکو د تعليماتو، د مُبلِّغينو د بيانونو او د غور و فکر کوونکو د خيالونو نه چې تاسو څه وينئ او که اورئ دا ټول د دغه دوو په وجه دي، د علم او عبادت د پاره آسماني کتابونه نازل کړے شوي دي او رُسُلِ کرام عَلَیۡھِمُ

السَّلام رالیږلے شوي دي بلکه د زمکې او آسمانونو او د ټولې دنیا مخلوقات د دې دوو په وجه پیدا کړے شوي دي، مخکښې لیکي: په بنده لازم دي چې هغه په دې دواړو (یعني علمِ دین زده کولو او عبادت کولو) کښې مصروفه اوسي، دې د پاره خپل ځان سترے کوي او په دې کښې غور و فکر کوي. بس په دې خبره ځان پوهه کړئ چې د علم او عبادت نه علاوه چې څومره هم کارونه دي ټول بے کاره او فالتو دي. د دې څه فائده نشته او نه ترې څه حاصلیږي. (منهاج العابدین، ص 11)

اے عاشقانِ علمِ دین! حدیثِ پاک کښې دي: الله پاک چې د چا سره د څه ښیګړې اراده اوفرمائي نو هغه له د دین علم او پوهه ورکوي.

(مسلم، ص401، حدیث:2392)

یو بل روایت کښې دي: عالمَان د انبیائے کرامو وارثان دي.

(سنن ابن ماجه، 146/1، حدیث:223)

دې نه پته اولګیده چې څنګه د نَبُوَّت نه اوچته بله مرتبه نشته، دغه شان د نَبُوَّت د وِراثَت (یعني علم) نه اوچت بل هیڅ یو عظمت نشته.

(احیاء العلوم، 20/1)

شیخ طریقت امیرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د عالمَانو صاحبانو سره د خپل محبت اظهار په خپل نعتیه کتاب وسائلِ بخشش کښې څه داسې کوي:

مجھ کو اے عطّارؔ سُنّی عالِموں سے پیار ہے    اِن شاءَ الله دو جہاں میں میرا بیڑا پار ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د تقلید ثبوت

حضرت مفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې حدیث نه دوه مسئلے ثابت شوے: یوه دا چې د قرآن او احادیثو ترجمې او الفاظ رټه کول علمِ دین نه دے، بلکه په دې ځان پوهه کول علمِ دین دے. دا مشکل دې، د دې د پاره د فُقَهاؤ تَقلید کولے شي، ځکه ټول مُفَسِّرین او مُحَدِّثین آئمه د مُجتَهِدینو مُقَلِّد شو او په خپلو احادیثو ئې ناز اونکړو، د قرآن و احادیثو په ترجمو خو ابو جهل هم پوهیدو. بله دا چې د احادیثو او قرآن پاک علم کمال نه دے، بلکه په دې ځان پوهه کول کمال دے. عالمِ دین هغه دے د چا په ژبه چې د الله و رسول فرمان وي او په زړه کښې ئې د دې فیضان.

(مراةالمناجیح، 187/1)

شافعی مالک احمد امامِ حَنیف چار باغِ امامت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عالِمِ دین جوړیدو د پاره څومره علم ضروري دے

د اعلٰی حضرت امامِ اهلِسنّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه دوه پوښتنې اوشوې د هغې (یعني سوال) او ارشاد (یعني جواب) تاسو ته وړاندې کوؤ:

عرض: د عالِم څه تعريف دے؟

ارشاد: د عالِم تعريف دا دے چې د عقائدو نه پوره خبر وي او مُستَقِل وي او خپل ضرورتونه د چا د مرستې نه بغير د كتاب نه راويستے شي.

عرض: د كتابونو لوستو سره علم حاصليدے شي؟

ارشاد: يواځې دا نه بلكه علم "د اَفواهِ رِجال" (يعني د علم والوؤ سره د خبرو اترو) نه هم حاصليږي. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص58)

## مدني سپرلے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د علمِ دين حاصلولو يوه بهترينه ذريعه د اميرِ اهلِسنّت د علم او حكمت نه ډك د سوال و جواب مشهورې سلسلے مدني مذاكرې او بيانونه اوريدل هم دي. يو مدني سپرلے اولولئ او د علمِ دين شوق پيدا كړئ! د مُراد آباد (هند) يو اسلامي ورور خوب كښې يو ښكلے باغ اوليدلو، په هغې كښې [هغوئ اوليدل چې] د سنّتو مطابق سپينو جامو اغوستونكے، نوراني مخ والا بزرګ په سر عمامه شريفه تړلي لمُونځ كوي. زه په دې انتظار ووم چې دے لمُونځ پوره كړي نو زه به د ده سره لاس ميلاؤ كړم او پوښتنه به ترې اوكړم چې دا څوک دے؟ خو څنګه چې سلام اوګرځولو زما سترګې اوغړيدې (يعني زه د خوب نه رابيداره شوم) د راپاڅيدو نه پس زړه كښې يو عجيبه سكون او خوشحالي محسوسيدله خو بيا بيا دا

خيال هم راتللو چې دا بزرګ څوک کيدے شي؟ د هغه بزرګ د زيارت (يعني ليدلو) په برکت زما زړه د دُنيا د ښکلا نه بيزاره شو او نيک ماحول طرف ته مائل شو. زما د علمِ دين زده کولو سره شوق پيدا شو. دغه شوق کښې يوه ورځ د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي هفته وارې د سنّتو ډکې اجتماع ته حاضر شوم. آخِره کښې د ژړوونکې دُعا په وخت د شُرکاؤ په زار زار ژړا زما د زړه دُنيا بدله کړه. د اجتماع په آخِره کښې يو مُبَلِّغ د اميرِ اهلِسنّت د سُنَّتو دوه ډک بيانونه په نوم "قبر کا امتحان" او "باحيا پرنده" د اوريدو د پاره راکړه. ما چې کله هغه واوريدل نو د قبر او حشر خطرناک مناظر مې مخې مخې ته کيدل، زه اُويَريدم او توبه مې کړه او په مزه مزه ديني ماحول ته نزدې کيدم. په هغه ورځو کښې کانپور (هند) کښې د دعوتِ اسلامي د سنّتو ډکه اجتماع اوشوه چې هغې ته اميرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هم تشريف راوړو. څنګه چې ما اميرِ اهلِسُنَّت اوليدلو نو زه ډير حيرانه شوم چې دا خو هم هغه هستي وه د چا چې ما په خوب کښې زيارت کړے وو. (نورانی چہرے والے بزرگ، ص 8) د الله پاک دې په اميرِ اهلِسُنَّت باندې رحمت وي او د هغوئ په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

کتنے بنائے عالم و حافظ کتنوں کو ہے تم نے سنوارا
پیر میرا پیر میرا پیر میرا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# عالِم او بے علمه برابر نشي کيدے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څنګه چې ګوتکے [يعني چاړا] او خبرېږ کوونکے، وړوند او په سترګو ليدلو والا برابر نشي کيدے، داسې عالِم دين او جاهل هم برابر نشي کيدے. الله پاک د قرآنِ کريم په سيپاره 23، سورة الزُّمَرْ، آيت نمبر 9 کښې ارشاد فرمائي:

قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ (پ23، الزمر، آيت:9)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزالايمان: ”تاسو اوفرمائي! آيا برابر دي پوهه لرونکي او ناپوهه.“

په تفسير طبري کښې دي: په دې آيت مبارکه کښې الله پاک نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته فرمائي: ”اے محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ! خپل قوم ته اوفرمايه چې څوک د دې خبرې علم لري چې د هغوئي د پاره د خپل رَبّ په اطاعت او فرمانبردارئ کښې څه (اجر و ثواب) دے او د هغه په نافرمانئ کښې څنګه (عذاب) دے، آيا دا خلق (په مقام او مرتبه کښې) د هغه خلقو برابر کيدے شي څوک چې د دې خبرو علم نه لري؟ بس هغه (بے علمه) خلق بغير د سوچ او پوهې نه کار کوي، هغوئي ته نه د نيک اعمالو د ثواب څه پته وي او نه د غلطو کارونو د عذاب ويره. بس دا دواړه قسمه خلق برابر نشي کيدے.

(تفسير طبري، پ23، الزمر، تحت الآية: 9، 10/621)

## ځلمے عالم په جاهله بوډا باندې مُقَدَّم دے

په ”کَنْزُالدَّقَائِق “ کښې دي: د ځلمي عالِم دا حق دے چې هغه دې په جاهله ( یعني د علمِ دین پوهه نه لرونکي) بوډا باندې مُقَدَّم کړے شي.

امام بَدرُ الدِّین عَیني حنفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې عبارت شرح کوي او په ”رَمْزُالْحَقَائِق“ کښې ارشاد فرمائي: ” ځکه چې ځلمے عالم د جاهل بوډا نه غوره دے. الله پاک ارشاد فرمائي:

قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ (پ23، الزمر، آیت: 9)

[مفهوم]ترجمۂ کنزالایمان:” تاسو اوفرمائي! آیا برابر دي پوهه لرونکي او ناپوهه.“

ځکه لمُونځ کښې دا (ځلمے عالم) په (جاهله بوډا باندې) مُقَدَّم کولے شي حالانکه لمُونځ په ارکانِ اسلام کښې یو رُکن او د ایمان نه پس د ټولو نه وړومبے فرض دے او شریعت کښې چې د کوم (عالِمَانو صاحبانو) اطاعت اوکړے شي هغه مُقَدَّم وي، او هغوئي به ولې نه مُقَدَّم کړے شي چې علمائے حق، د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام وارثان دي لکه څنګه چې په حدیثِ پاک کښې راغلي دي. (رمزالحقائق، کتاب الخنثی، 2/285)

## د علمِ دین شان

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دے! بیشکه حکمت د

مرتبے د خاوند مرتبے اوچتوي او غلام دومره اوچتوي چې هغه د بادشاهانو مقام اوومومي. (المجروحين لابن حبان،472/1)

په دې حديثِ پاک کښې د علم دنياوي فائدے بيان شوې دي او دا خبره يقيني ده چې آخرت ډير بهتره او باقي پاتې کيدونکے دے.

## د علمِ دين په وجه ورته مال او بادشاهت ميلاؤ شو

حضرت عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې حضرت سليمان بن داؤد عَلَيْهِ السَّلام ته د علم، مال او مُلک نه د يو اخستلو اختيار ورکړے شو نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلام علم اختيار کړو، نو هغوئي ته د علم په برکت مال او مُلک دواړه ورکړے شو.

(تفسير روح البيان، پ23، الزُمر، تحت الآية: 9، 82/8)

اے عاشقانِ رسول! صرف د الله پاک د رضا د پاره علمِ دين حاصل کړئ او دُنيا و آخرت کښې د دې برکتونه حاصل کړئ چې په حديثِ پاک کښې دي: د زمکې او آسمان ټول مخلوق د عالِم د پاره اِستِغفار کوي.

(ترمذي، 1/، 146، حديث:223)

لِهٰذا د هغه نه به اوچته مرتبه د چا وي د چا د پاره چې د زمکې او آسمان فرښتې د بخښنې دُعاګانے کوي. دا په خپل ذات کښې مشغول دے او فرښتې د ده د پاره په اِستِغفار کښې مشغولې دي.

## د ”عالِم دین“ د 7 حروفو په نسبت د علمائے کرامو په فضائل باندې 7 فرامين مصطفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(1) الله پاک به د قیامت په ورځ عبادت کوونکي راپاڅوي، بیا به علماء راپاڅوي او هغوئي ته به اوفرمائي: اے د علماؤ ډلې! زه تاسو پیژنم ځکه مې تاسو ته د خپل طرف نه علم عطا کړے وو او تاسو له مې د دې د پاره علم نه وو درکړے چې تاسو له عذاب درکړم. ځئ! ما تاسو اوبخښلئ.

(جامع بيان العلم وفضله، حديث:211، ص69)

(2) مومن عالِم په مومن عابِد [یعني عبادت ګزار] باندې 70 درجے زیات فضیلت لري. (جامع بيان العلم وفضله، حديث:84، ص36)

(3) د عالِم او عابد ترمینځه 100 درجے دي او د هرو دوو درجو ترمینځه دومره مزل دے خومره چې تیزه منډه وهونکے ښه آس د 70 کالو پورې په منډه کوي. (جامع بيان العلم وفضله، ص43، حديث:118)

(4) د عالِم فضیلت په عابد باندې داسې دے لکه څنګه چې د څوارلسمې د سپوږمۍ په ټولو ستورو دے. (سنن ابوداود، 444/3، حديث:3641)

(5) د عالم فضیلت په عابد باندې داسې دے لکه څنګه چې زما فضیلت ستاسو په ادنٰــی (کَس) دے. (ترمذي، 314/4، حديث:2694)

د دې حدیثِ پاک لیکلو نه پس اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: غور

اوکړئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه علم د درجهٔ نبوت سره میلاؤ کړو او څنګه ئې د علم نه د خالي عمل مرتبه کمه کړه حالانکه عابد چې په عبادت څنګه مُواظَبَت (يعني پابندي) اختياروي هغه د علم نه خالي نه وي ګنې بيا خو هغه عبادت نه شو کوم چې د علم نه خالي وي.(احياء العلوم، 21/1)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: دا تشبيه د نوعيت د بيان د پاره ده نه چې د بيان د مقدار د پاره، يعني لکه کوم قسم بزرګي چې ماته په ټولو مسلمانانو حاصله ده داسې قسم بزرګي عالم ته په عابد باندې يعني ديني بزرګي، نه چې صرف دنياوي، حالانکه په دې دواړو بزرګو کښې کروړونو درجے فرق دے. بادشاه ته په رعايا باندې د بادشاهئ، مالداره ته په فقير باندې د مالدارئ، طاقت والا ته په وَس نه لرونکي (يعني کمزوري) باندې د طاقت، ښکلي ته په بد رنګه باندې د حُسن بزرګي حاصله ده. خو دا بزرګيانې دُنياوي او فاني دي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په مخلوق باندې ديني بزرګي حاصله ده، کومه چې هميشه د پاره (يعني تل تر تله) قائمه ده، داسې عالِم ته په جاهل باندې، نن سکندر ته په يو فقير باندې د ملک بزرګي نشته، خو امام ابوحنيفه ته په ټولو مُقَلِّدينو باندې بے حسابه عظمت اوس هم حاصل دے. ياد ساتئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په انبياؤ باندې بله د بزرګئ درجه ده، په

صحابهٔ کرامو باندې بله درجه، په اولیاء کرامو او عُلمائے کرامو باندې د بلې درجې، په عوامو د بلې درجې، اَدۡنٰی کُمۡ کښې دې آخري درجې ته اشاره ده. (مراۃالمناجیح،200/1)

مفتي صاحب مخکښې نور فرمائي: دې نه دا لازمه نه ده چې عالِم د نبي برابر شي. ياد ساتئ! چې علمِ دين يا "فرضِ عين" دے يا "فرضِ کفايه" او زيات عبادت نفل دے، د عالم نفع مخلوق ته ده او د عابد نفع صرف هغه ته، ځکه عالم د عابد نه غوره دے. آدم عَلَیۡہِ السَّلَام عالِم وو، فرښتې د لکونو کالو عابد (يعني عبادت کوونکې) وې خو سجده عابدانو عالم ته اوکړه.(مراۃالمناجیح،216/1)

(6) د قيامت په ورځ به د علمائے کرامو سياهي د شهيدانو د وينې سره تول کولے شي او د دوئي سياهي به غالبه راشي. (تاریخ بغداد،190/2)

(7) د قيامت په ورځ به درې قسمه خلق شفاعت کوي: انبياء، عُلَماء او شهيدان. (سنن ابن ماجه، حديث:4313، 526/4)

حضرت شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاك په شرح کښې فرمائي: د دې دريو ډلو سره شفاعت خاص کول د دوئي د ډېره غوره والي او بزرګۍ په سبب دے ګني په مسلمانانو کښې هر نيک کَس (مثلاً ريښتونے حاجي، با عمله حافظ) د پاره (هم د شفاعت حق) ثابت دے.

(اشعة اللمعات،432/4)

امامِ غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: معلومه شوه چې زيات عظمت والا مرتبه هغه ده د کومې ذِکر چې د مرتبهٔ نَبُوَّت سره ميلاؤ شوے دے او دا مرتبه د شهادت نه غټه ده حالانکه د شهادت د فضيلت په باره کښې هم اکثر احاديث روايت شوي دي. (احياء العلوم، 21/1)

## د عالِمِ دين د محفل په برکت سره د سندر غاړي توبه

په بصره کښې يوه ډيره ښائسته زنانه اوسيدله. خلقو به د شَعوانه په نوم پيژندله. د ظاهري حُسن او جمال سره سره د هغې آواز هم ډير ښکلے وو. د خپل ښکلي آواز په وجه هغه په سندرو او نوحه ګرئ (يعني ماتمي سندرو) کښې مشهوره وه. په بصره ښار کښې به د خوشحالئ او غم هر محفل د دې نه بغير نيمګړے ګنړلے شو. هم دا وجه وه چې د هغې سره به ډير مال او دولت راجمع کيدلو. بصره ښار کښې د فسق وفجور په باره کښې به د هغې مثال ورکولے شو. د هغې ناسته پاسته د اميرانو وه، هغې به قيمتي جامې اغوستې او ګران ګران کالي به ئې اچول او ډير ډَوَل سينګار به ئې کولو. يوه ورځ هغه د خپلو رُوميانو او تُرکيانو خادمانو سره چرته روانه وه. په لاره کښې دا د حضرت صالح مرّي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د کور په خوا تيريدله. هغوئي د الله پاک په نيکو بندګانو باعمله عالِمِ دين او عابدانو او زاهدانو کښې شميرلے کيدلو. هغوئي به خپل کور کښې خلقو ته بيان فرمائيلو. چې د هغې د اثر په

وجه به په خلقو ويره راتلله او په زوره زوره به ئې ژړل او د الله پاک د ويرې نه به ئې د سترګو نه د اوښکو لړئ رواني وې. دا شَعوانه نومې زنانه چې کله د هغوئي د کور په خوا تيريدله نو هغې د کور نه د ژاړه آوازونه واوريدل. هغې له ډيره غُصَّه ورغله. هغې خپلو خادمانو ته اووئيل: د حيرانتيا خبره ده چې دلته خلق نوحه (يعني ماتم) کوي او ماته ئې هډو پته نشته. بيا هغې يوه خادمه د کور د حالاتو معلومولو د پاره دننه اوليږله. هغه چې دننه لاړه او دننه حالات ئې اوکتل نو د الله پاک ويره پرې غالب شوه او هغه هم هلته کښيناسته. چې هغه واپس رانغله نو شَعوانه د ډير انتظار نه پس دويمه او بيا دريمه خادمه دننه اوليږله خو هغوئې هم واپس رانغلې. بيا هغې څلورمه خادمه دننه اوليږله کومه چې لږ ساعت پس بيرته راغله او هغې ته ئې اووئيل چې کور کښې دننه د چا په مړه کيدو نوحه (يعني ماتم) نه کيږي بلکه په خپلو ګناهونو ژړا کيږي، خلق د خپلو ګناهونو په وجه د الله پاک د ويرې نه ژاړي.

شَعوانه چې دا واوريدل نو په خندا شوه او په هغوئې پسې د تِوقو کولو په نِيَّت کور ته ننوتله. خو الله پاک ته څه بل څه منظور وو. کله چې هغه دننه لاړه الله پاک د هغې زړه بدل کړو. کله چې هغې حضرت صالِح مرّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوليدلو نو زړه کښې ئې اووئيل: افسوس! زما خو ټول عمر ضائع شو، ما

خو ډېر قيمتي ژوند په ګناهونو کښې ضائع کړو، هغه به زما ګناهونه څنګه معاف کړي؟ په دې خيالونو هغه پريشانه شوه او د حضرت صالح مرّي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه ئې پوښتنه اوکړه: ”اے اِمَامُ الۡمُسۡلِمِين! آيا الله پاک د نافرمانه او سرکشه خلقو ګناه هم معاف کوي؟“ هغوئي اوفرمائيل: ” آؤ! دا وعظ و نصيحت او وعدې لوظونه ټول خو د هغوئي د پاره دي چې هغوئي په نيغه لار روان شي. په دې هم د هغې تسلـي اونشوه نو هغې اووئيل: زما ګناهونه د آسمان د ستورو او د سمندر د زګ نه هم زيات دي. هغوئي اوفرمائيل: هيڅ خبره نه ده! که چرې ستا ګناهونه د شَعوانه نه هم زيات وي نو بيا به ئې هم الله کريم معاف کړي. دې اوريدو سره هغې چغې کړې او په ژړا شوه او دومره ئې اوژړل چې بے هوشه شوه او په زمکه پريوتله. لږ ساعت پس چې کله په هوش کښې راغله نو اوئې وئيل: حضرت! زه شَعوانه يم د چا د ګناهونو چې مثالونه ورکولے شي. بيا هغې خپلې قيمتي جامې او ګران کالي لرې کړه او زړې جامې ئې واغوستلې او په ګناهونو ګټلے ټول مال ئې په غريبانو کښې تقسيم کړو او خپل ټول غلامان او خادمانې ئې هم آزادې کړې. بيا په خپل کور کښې بنده کښيناسته. د دې نه پس به هغه شپه او ورځ د الله پاک په عبادت کښې مصروفه وه او په خپلو ګناهونو به ئې ژړل او د هغې معافي به ئې غوښتله. په ژړا ژړا به ئې د ربِّ رحيم او کريم په

دربار کښې سوالونه کول: اے توبه کوونکي خوښوونکیه او ګنهګاران معاف کوونکیه! په ما رحم اوکړه، زه کمزوري يم. ستا د عذاب سختۍ نه شم زغملے، ته ما د خپل عذاب نه بچ کړې او ماله خپل ديدار راکړې. هغې په دې حالت کښې 40 کاله تير کړه او مړه شوه. (حکايات الصالحين، ص74) د الله پاک دې په هغې رحمت وي او د هغې په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جوں ہی گناہ کرنے لگوں، تیرے خوف سے　　فوراً اُٹھوں میں تھر تھرا یا ربِّ مصطفٰے

تیری خَشیّت اورترے ڈر سے،خوف سے　　ہر دم ہو دِل یہ کانپتا یا ربِّ مصطفٰے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## الله والا ويريږي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! باعمله [انسان] با اثره وي، د باعمله علمائے کرامو بيانونه او ليکلے شوي کتابونه د خلقو ژوند بدلوي لکه څنګه چې اوس تاسو په واقعه کښې واوريدل، د الله نه د ويرې د عظيم نعمت حاصلولو ذريعه علمِ دين ده ځکه چې د علمِ دين په برکت د الله پاک معرفت حاصليږي. الله پاک بيشميره مخلوقات پيدا کړه. په ټولو مخلوقاتو کښې د اَشْرَفُ الْمَخْلُوقَات تاج انسان ته په سر کړے شو. الله پاک د انسانانو نيکه حضرت آدم صفي الله عَلَيْهِ السَّلَام په خپل دستِ قدرت سره

پيدا کړو او په فرښتو ئې هغوئي ته سجده اوکړه او بيا ئې هغوئي ته په زمکه خپل خلافت عطا کړو. دا ټول مقام او مرتبه هغوئي ته د هغه علم د فضيلت په سبب حاصله شوه کومه چې الله پاک هغوئي ته عطا کړې وه او دا دومره عظيم نعمت دے چې څوک ئې هم په ريښتوني نِيَّت سره حاصل کړي نو هغه نه محرومه کيږي او د دې حاصلوونکي ته د ټولو نه غوره او ښه څيز کوم چې په لاس راځي هغه د الله پاک د عظمت او شان معرفت دے او څوک چې الله اوپيژني هغوئي ته د الله پاک د ويرې نعمت ميلاويږي. لکه څنګه چې په سيپاره 22، سورة الفاطر، آيت نمبر 28 کښې ارشاد دے: اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ (پ22، فاطر، آيت:28)

[مفهوم]ترجمه کنزالايمان: " د الله نه د هغه په بنده ګانو کښې هغوئي ويريږي څو چې علم والا دي."

## څومره ښکلے شان د صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ دے

حضرت علامه محمود بِن عبدُ الله حسيني آلوسي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه په تفسيرِ رُوحُ المَعَاني کښې ارشاد فرمائي چې د بعضې اقوالو مطابق دا آيتِ کريمه د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ په باره کښې نازل شوے دے چې په هغوئي به د الله پاک ويره غالبه وه.

(تفسير روح المعانى، جز:22، فاطر، تحت الآية:28، ص499)

اميرِ اهلِسنّت د صديقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په منقبت کښې عرض کوي:

يقينا مَنبعِ خوفِ خدا صدّيقِ اکبر ہيں حقيقی عاشقِ خيرُ الورٰی صدّيقِ اکبر ہيں

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خپلې ګواهۍ سره علمائے کرام

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د علمائے کرامو خومره ښکلے شان دے، الله پاک د خپل ځان سره د علمائے کرامو د ګواهۍ په باره کښې په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

قُلۡ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيۡدًۢا بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ ۙ وَمَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتٰبِ ﴿۴۳﴾ (پ13، الرعد: 43)

[مفهوم] ترجمهٔ کنز الايمان: "تاسو اوفرمائي الله ګواه کافي دے په ما کښې او په تاسو کښې او د هغوئي [په مينځ کښې] چا سره چې د کتاب علم دے."

## د عالِمِ ربّاني يو علامت

د حقيقي عالِمِ ربّاني په نِزد آخرت د دُنيا نه زيات اَهَمِّيَّت لري، هغوئي د زر فنا کيدونکي ژوند په مُقابَله کښې هميشه باقي پاتې کيدونکي ژوند له ترجيح ورکوي، قارون خوک چې ډير زيات مالداره وو، يوه ورځ ئي ځان ښه سنبال کړو او د خپل لښکر سره بهر اووتلو، د هغه د ښکلا ځلا ليدو

سره بعضې ايمان والوو اووئيل: کاش! چې مونږ ته هم داسې شان و شوکت او مال و دولت ميلاؤ شوے وے څنګه چې قارون ته په دُنيا کښې ميلاؤ شوے دے. بيشکه دا ډير نصيب والا دے. په دې د هغه وخت علمائے رَبَّانِيِّين هغوئي مخاطب کړه او اوئې فرمائيل: هغه په قرآنِ مجيد کښې څه داسې بيان شوي دي:

وَ قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا ۚ

(پ20، القصص: 80) [مفهوم] ترجمۂ کنزالايمان: ”او اووئيل هغوئي چا ته چې علم ورکړے شوے وو خرابي دې وي ستاسو، د الله ثواب بهتر دے د هغوئي د پاره څوک چې ايمان راوړي او ښه کارونه اوکړي.“

امامِ غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: دې آيت مبارکه کښې بيان شو چې د آخرت قدر د علم په ذريعه معلوميږي. او دې آيت کښې زُهد (يعني د دنيا نه بے رغبتي) علمائے کرامو طرف ته منسوب کړے شوي ده او د زاهدينو خوبي دا بيان شوې ده چې هغوئي د علم د دولت نه ډک [يعني مالا مال] وي.

(احياء العلوم، 19/1، 270/4)

حقيقت خو دا دے چې د علمائے ربّانيّين په نِزد د هغوئي مال د هغوئي علم دے څنګه چې حضرت زُبير بن ابوبکر رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بيانوي چې زه په عراق کښې ووم زما والد صاحب ماته پيغام راوليږلو چې علم په ځان لازم

کړه! که چرې غریب وې نو دا ستا مال دے او که مالداره وې نو دا ستا جمال [یعني ښکلا او حُسن] دے. (حدیث ابی نُعیم عن علی الصواف، ص7، حدیث:6)

معلومه شوه چې د دنیادارو دُنیا ته د لالچ په سترګو کتل او دوئي ته د میلاؤ شوې دُنیا ارمان کول د غافله خلقو کار دے خو علم لرونکي خلق د دنیا سره رغبت نه ساتي، په آخرت کښې میلاویدونکي ثواب ته ګوري او د دې ثواب موندلو اُمِّید لرلو سره نیک اعمال کوي او د ګناهونو نه ځان ساتي او دې سره سره نور هم د دُنیا د عیش و عشرت حاصلولو ارمان په ځائے د آخرت ثواب موندلو د پاره کوششونو کولو طرف ته راغب کوي.

(تفسیر صراط الجنان، پ20، القصص، تحت الآیة:80، 7/328)

الله کریم! دې مونږ ته صرف د خپلې رضا د پاره د علمِ دین حاصلولو سعادت رانصیب کړي. اٰمین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیَتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com